**بسم الله الرحمن الرحيم**

**له حديث شريف سره**

**د خلافت د نوماندانو محدودیت**

په دې اړه امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کې له عایشې رضی الله عنها څخه روایتوي:

**عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: وَاجْتَمَعَتْ الْأَنْصَارُ إِلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فِي سَقِيفَةِ بَنِي سَاعِدَةَ فَقَالُوا: مِنَّا أَمِيرٌ وَمِنْكُمْ أَمِيرٌ فَذَهَبَ إِلَيْهِمْ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فَذَهَبَ عُمَرُ يَتَكَلَّمُ فَأَسْكَتَهُ أَبُو بَكْرٍ وَكَانَ عُمَرُ يَقُولُ وَاللَّهِ مَا أَرَدْتُ بِذَلِكَ إِلَّا أَنِّي قَدْ هَيَّأْتُ كَلَامًا قَدْ أَعْجَبَنِي خَشِيتُ أَنْ لَا يَبْلُغَهُ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ تَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ فَتَكَلَّمَ أَبْلَغَ النَّاسِ فَقَالَ فِي كَلَامِهِ: نَحْنُ الْأُمَرَاءُ وَأَنْتُمْ الْوُزَرَاءُ فَقَالَ حُبَابُ بْنُ الْمُنْذِرِ: لَا وَاللَّهِ لَا نَفْعَلُ مِنَّا أَمِيرٌ وَمِنْكُمْ أَمِيرٌ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: لَا وَلَكِنَّا الْأُمَرَاءُ وَأَنْتُمْ الْوُزَرَاءُ هُمْ أَوْسَطُ الْعَرَبِ دَارًا وَأَعْرَبُهُمْ أَحْسَابًا فَبَايِعُوا عُمَرَ أَوْ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ فَقَالَ عُمَرُ بَلْ نُبَايِعُكَ أَنْتَ فَأَنْتَ سَيِّدُنَا وَخَيْرُنَا وَأَحَبُّنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ عُمَرُ بِيَدِهِ فَبَايَعَهُ وَبَايَعَهُ النَّاسُ فَقَالَ قَائِلٌ: قَتَلْتُمْ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ فَقَالَ عُمَرُ قَتَلَهُ اللَّهُ.**

***ژباړه:*** *د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مېرمنې عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې ویلي یې دي:* انصار په سقیفه بني ساعده کې (د خلافت په تړاو) پر سعد بن عباده راټول شوي وو او ویل یې: یو امیر دې له موږ (انصارو) څخه او یو امیر دې له تاسو (مهاجرینو) څخه وي، ابوبکر، عمر بن خطاب او ابوعبیدة بن جراح ورغلل. عمر غوښتل چې له هغوی سره خبرې وکړي، مگر ابوبکر ورته وویل چې څه به نه وايې، عمر رضي الله عنه ویل: ما کوم بل څه ویل نه غوښتل، یوازې له ځان سره مې ځینې خبرې برابرې کړې وي، وېرېدم چې ابو بکر به یې په ښه شکل او پوره بلاغت سره ونه وايي، خو کله چې ابو بکر رضي الله عنه خبرې وکړې، نو هغه تر تر هر چا ښې او بلیغې خبرې وکړې. *ابوبکر وویل، امیران به له موږ څخه وي او وزیران له تاسو څخه، نو حباب ابن المنذر وویل: نه پر الله سوگند داسې نه کوو، یو امیر به له تاسو وي او یو به له موږ وي، ابو بکر رضي الله عنه وویل: امیران به له موږ څخه وي او وزیران له تاسو څخه، ځکه هغوی (قریش) په عربو کې هم د (قبیلې) له مخې او هم د خپلوی (له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د خپلوی او په اسلام کې د مخینې) له مخې وړ دي، نو له عمر او یا ابو عبیده بن جراح سره بیعت وکړئ. عمر وویل، نه له تا سره بیعت کوو، ته زموږ سردار او تر ټولو غوره شخص یې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو نږدې دوست ته یې. له همدې امله عمر د ابوبکر لاس ونیو او له هغه سره یې بیعت وکړ، خلکو هم بیعت ورسره وکړ، یو چا*

*وويل سعد بن عباده مو وواژه (د هغه حیثیت مو تر پښو لاندې کړ او څنډې ته مو کړ)عمر رضي الله عنه وويل: الله دې هغه ووژني.*

لکه څنگه چې په دغه روایت کې هم راځي، په لومړي ځل د خلیفه په ټاکلو کې د خلافت نوماندان څلور کسان وو، سعد بن عبادة، ابوبکر، عمر او ابوعبیدة رضی الله عنهم؛ مگر دا چې عمر او ابوعبیدة رضی الله عنهما د ابوبکر له علم او مقام څخه خبر وو، نو له هغه سر یې سیالي ونه کړه. له همدې امله هلته د نوماندانو شمېر تر دوو کسانو یعنې ابوبکر او سعد بن عبادة رضی الله عنهما پورې محدود شو، چې د اهل الحل و العقد له ډېرو بحثونو وروسته په سقیفه کې له دوو نوماندانو څخه یو یې وټاکل شو او د شورا ټولو غړو ورسره هلته بیعت وکړ، چې دا د انعقاد بیعت و. له هغه څخه یوه ورځ وروسته په جومات کې د اطاعت بیعت وشو، د نوماندانو د محدودیت پړاوونه د څلورو نوماندانو په منلو سره پیل او تر دوو پورې محدود شول، وروسته اهل الحل و العقد له هغو دوو څخه یو یې وټاکه او بیعت یې ورسره وکړ.

له عمر رضی الله عنه سره د بیعت پرمهال د نوماندانو شمېر محدود نه شو، ځکه عمر رضی الله عنه یوازینی نوماند و. د علي رضی الله عنه موضوع هم په همدې ډول وه، ځکه هلته هم له علي رضی الله عنه پرته بل نوماند نه و، په همدې ترتیب له عمر او علي رضی الله عنهما سره بیعت وشو، پرته له دې چې د محدودیت او د خلافت د نوماندانو د ټاکلو پړاوونه طی شي؛ یعنې د خلیفه له ټاکل کېدو وړاندې د نوماندانو شمېر په کمه او لویه کچه مشخص نه شو.

مگر له عثمان رضی الله عنه سره د بیعت په څرنگوالي کې لومړی نوماندان تر شپږو کسانو پورې محدود شول او وروسته بیا تر دوو نوماندانو پورې نور هم محدود او کم شول. کله چې نوماندان تر عثمان او علي رضی الله عنهما پورې محدود شول، د اهل الحل و العقد او عامو خلکو رایه او نظر د دغو دوو نوماندانو په اړه واخیستل شول، تر دې چې د عثمان پله درنه شوه او په جومات کې لومړی د انعقاد بیعت او وروسته بیا د اطاعت بیعت ورسره وشو.

د دغو پړاوونو اړوند روایت ته په پام سره په طبري تاریخ (تاریخ الرسل و الملوک) کې راځي، چې دا پړاوونه په لاندې ډول دي:

1- عمر رضی الله عنه وويل: «اې خلکو تاسو او څو نور هغه کسان چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنت اهل بللي او سعید بن زید بن عمرو بن نفیل هم د هغوی له ډلې څخه دی، خو زه نوموړی ترې لرې کوم او پاتې دغه شپږ کسان، یعنې د عبد مناف اولادونه علي او عثمان، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ماماگان عبدالرحمن او سعد، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملگری او د عمه زوی زبیر بن عوام او طلحة الخیر بن عبیدالله؛ دوی دې پخپلو کې

یو کس وټاکي او هر یو یې چې د خلافت لپاره انتخاب کړ، نو تاسو په نیکۍ سره د هغه ملاتړ او مرسته وکړئ.»
عمر رضی الله عنه په دې ترتیب د هغو اصحابو شمېر مشخص کړ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دنیا څخه د رحلت پرمهال ترې راضي و. دا اووه نوماندان هغه کسان وو، چې د انعقاد شرطونه یې پوره کړي وو او وروسته یې نوماندان تر شپږو کسانو پورې محدود کړل.

د مسلمانانو د مشرانو لپاره د نوماندانو شمېر محدود شو او که چېرې د نوماندانو محدودیت ناروا وای، بیا عملي کېدای نشو او مخه یې نیول کېده؛ یعنې په دې دلیل چې د نوماندانو په محدودیت سره د نوماندۍ لپاره د نورو کسانو حق تر پښو لاندې کېږي. پر همدې اساس د اصحابو په اجماع سره د خلافت د نوماندانو محدودیت روا دی، امت (د امت استازي) کولی شي چې د نوماندانو شمېر محدود کړي، توپیر نه کوي چې دغه محدودیت په مستقیم ډول د امت لخوا ترسره کېږي او که د مخکیني خلیفه د تفویض له لارې ترسره کېږي، یعنې دا چې د امت په نیابت د نوماندانو شمېر محدود کړي.

دا موضوع د نوماندانو د محدودولو په اړه وه، خو دا چې په لومړۍ سر کې دې نوماندان تر شپږو کسانو پورې محدود شي، دا نو د عمر رضی الله عنه پر لاره تګ دی او دا چې د نوماندانو شمېر دې تر دوو نوماندانو پورې محدود شي، دا بیا د عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه له عمل سره سمون لري. که چېرې له ډېرو نوماندانو سره بیعت وشي، یعنې د نوماندانو شمېر له دوو څخه ډېر وي، په دې حالت کې که څوک د ټاکنو ګټونکی شي، نوموړی په حقیقت کې د دېرش سلنه خلکو په بیعت ټاکل شوی دی؛ یعنې په هغوی کې د اکثریت (چې له پنځوس سلنې ډېر وي) لخوا نه دی ټاکل شوی، نو که چېرې نوماندان تر دوو پورې محدود شي، په پایله کې بیا اکثریت خلک له ریښتیني ګټونکي سره بیعت کوي.

2- عبدالرحمن رضی الله عنه وویل: «په تاسو کې کوم له خلافت څخه تېرېږي او دا ژمنه کوي چې دا چاره به د دغې ډلې یوه غوره کس ته سپاري؟ هېچا ځواب ورنه کړ، وروسته عبدالرحمن رضی الله عنه وویل: زه له خلافت څخه ګوښه کېږم، هغوی وویل، موږ راضي یو. نوموړي له دوی څخه عهد او ژمنه واخیستله او پخپله یې هم د دوی په څېر ژمنه وکړه.

د همدې روایت له مخې: عبدالرحمن رضی الله عنه له سیالو کسانو څخه وکالت واخیست، چې په خپل منځ کې یو کس د خلیفه په توګه وټاکي، دا یې وروسته له هغه وویل، چې ځان یې له سیالۍ څخه ګوښه کړ، تر دې چې د نوماندانو شمېر پنځو کسانو ته را کم شو.

3- "وروسته عبدالرحمن رضی الله عنه له نوماندانو سره مشورې پیل کړې: علي رضی الله عنه ته یې وویل: "که دا کار ستا له لاسه ووځي او در ونه رسېږي، په دغو کسانو کې کوم یو د دغه کار لپاره وړ بولې؟ علي رضی الله عنه وویل:

عثمان. بيا يې له عثمان رضی الله عنه سره وليدل او ويې ويل: که ته دغه هدف ته ونه رسېږې، له دغو کسانو څخه کوم يو يې وړ بولې؟ ويې ويل: علي. بيا عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه له زبير رضی الله عنه سره وليدل او له هغه سره يې هم د علي او عثمان رضی الله عنهما په څېر خبره شريکه کړه، هغه وويل: عثمان. وروسته يې سعد رضی الله عنه وليد او همدا خبره يې ورسره شريکه کړه، هغه هم وويل: عثمان."

4- عبدالرحمن رضی الله عنه د خپلې مشورې داريره پراخه کړه، له اهل الحل و العقد او هغو کسانو سره يې هم مشورې وکړې، چې په مدينه کې وو:

"عبدالرحمن رضی الله عنه څو شپې سرگردانه و او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له اصحابو، د پوځ له هغو مشرانو چې مدينې ته راغلي وو او د قوم له مشرانو سره يې مشورې وکړې؛ خو له هر چا سره به يې چې وليدل، د عثمان نوم به يې واخيست. هغه شپه چې په سهار يې ټاکنه کېدله، تر ډېره يوې و بلې خواته وگرځېد او د شپې په وروستيو کې د مسور بن مرخمه کور ته راغی، ويې ليد چې نوموړی د شپې په وروستيو کې ويده شوی دی، له خوب څخه يې راويښ کړ او ورته ويې ويل، ايا ته ويده يې او ما ټوله شپه هېڅ سترگې نه دي پټې کړې، لاړ شه زبير او سعد را وغواړه. کله چې هغوی راغلل، نو عبدالرحمن رضی الله عنه د جومات په پای کې په ځانگړې کوټه کې، چې د مروان له کور سره څنگ کې وه، له زبير رضی الله عنه څخه وغوښتل: دا کار د عبد مناف دوو زامنو ته پرېږده، زبير رضی الله عنه وويل، زه مې خپله برخه علي ته ورکوم. بيا يې سعد رضی الله عنه ته وويل، زه او ته خو نږدې خپلوان يو، خپله برخه دې ماته راکړه، چې زه يې وټاکم، هغه وويل که چېرې ته عثمان ټاکې، خو زه بيا علي خوښوم".

دلته مو وليدل چې له اهل الحل و العقد سره تر مشورې وروسته د نوماندانو شمېر تر دوو يعنې عثمان رضی الله عنه او علي رضی الله پورې را محدود شو.

5- په پايله کې عبدالرحمن رضی الله عنه – له اهل الحل و العقد څخه په وکالت– د دوو نوماندانو له منځه خليفه وټاکه او په بېړه يې له هغه سره بيعت وکړ، وروسته نورو خلکو هم د انعقاد بيعت ورسره وکړ. هغه مهال عبدالرحمن رضی الله عنه وويل: "زه هره خوا وگرځېدم او مشورې مې وکړې، اې خلکو تاسو بايد بدگوماني ونه کړئ. وروسته يې علي رضی الله عنه را وغوښت او ويې ويل، ايا له الله سره ژمنه کوې چې د الله پر کتاب، د رسول الله پر سنتو او د تېرو دوو خلفاوو پر سيرت به عمل کوې؟ علي رضی الله عنه يې په ځواب کې وويل، هيله لرم چې د خپل علم او توان په اندازه به عمل وکړم. بيا يې عثمان رضی الله عنه را وغوښت او هغه ته يې هم د علی رضی الله عنه په څېر خبره وکړه، عثمان رضی الله عنه په ځواب کې ورته وويل، هو او عبدالرحمن رضی الله عنه له هغه سره بيعت وکړ".

حزب التحریر له دغو روایتونو څخه د استدلال پر اساس د خلیفه د ټاکلو لپاره ګامونه اخیستي دي او د خلافت نوماندان یې په دوو پړاوونو کې محدود کړي دي. دا ګامونه د انعقاد د شرطونو د چمتووالي لپاره د نوماندانو د شمېر په محدودولو سره پیل کېږي. دا هغه کار دی چې د مظالمو په محکمې پورې اړه لري، هغه محکمه چې پخوا به خلیفه جوړوله، ځکه چې خلیفه د خپل خلافت پرمهال د مظالم قاضي هم دی.

په همدې ترتیب حزب التحریر د اهل نوماندانو شمېر په دوو پړاوونو کې محدودوي، په لومړي پړاو کې د نوماندانو شمېر شپږ کسان کېږي او دا هغه کار و چې عمر رضی الله عنه د امت په استازیتوب وکړ، ځکه هغه مهال له عمر رضی الله عنه څخه غوښتل شوي وو، چې خپل ځای‌ناستی وټاکي. په دویم پړاو کې شمېر دوو نوماندانو ته رسېږي او دا هغه کار دی چې عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه د اهل الحل و العقد په وکالت ترسره کړی دی. په راتلونکي خلافت دولت کې به د امت په نیابت سره د امت مجلس د خلافت د نوماندانو شمېر په همدې توګه مشخص او محدودوي.

محترمو دوستانو: په حکومتولۍ پورې اړوند ټول موضوعات لکه، د دولت تاسیس او د خلیفه ټاکل د قوانینو په چوکاټ کې په بشپړ تفصیل سره چمتو شوي دي او یوازې تطبیق کېدو ته په تمه دي؛ یوازینی کار چې مسلمانان یې باید ترسره کړي، هغه د دولت اقامه، د دغو احکامو عملي کول او له هغه خلیفه سره بیعت کول دي، چې د الله د کتاب او د رسول الله د سنتو پر اساس پر موږ حکم کوي.